قرآني بيان

# د رَمَضَانُ المُبَارَک فيضان

(پاره: 2، سورهٔ بقره: 185)

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه)
او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 13 فروري، کال 2026ء
(بمطابق: 24 شعبان شريف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 13 فرورۍ، کال 2026ء (بمطابق: 24 شعبان شریف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

(پاره: 2، سورهٔ بقره: 185)

# د رَمَضَانُ الْمُبَارَک فیضان

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سرو زرو د دروازې والا محل
- پهٔ آتش پرست باندې رحمت
- د ټول کال نیکۍ بربادي
- د قبر وحشت ناک منظر!

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## دُرُود شریف نهٔ لوستونکے بد بخته دے

د مکے د سلطان، د مدینے د جانان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ❁ چا چې د روژې میاشت مونده او د هغې روژې یې اونهٔ نیولې هغه گس شَقِي (یعني بد بخته) دے ❁ چا چې خپل مور پلار یا یو موندو او د هغوئې سره یې ښهٔ سلوک اونکړو هغه هم شَقِي (یعني بد بخته) دے ❁ او د چا پهٔ خوا کښې چې زما ذِکر وشو او هغهٔ پهٔ ما باندې دُرُود اونهٔ لوستلو هغه هم شَقِي (یعني بد بخته) دے۔ (1)

| | |
|---|---|
| کعبہ کے بدرُ الدّجیٰ تم پہ کروڑوں درود | طیبہ کے شمسُ الضُّحیٰ تم پہ کروڑوں درود |
| تم سے جہاں کا نِظام، تم پہ کروڑوں سلام | تم پہ کروڑوں ثنا، تم پہ کروڑوں درود (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږ خوش قِسمتي ده چې پهٔ ژوند کښې یو ځل بیا د عظمتونو والا، د رحمتونو والا، د برکتونو والا، د بخښنې میاشت رَمَضَانُ المُبَارَک شریف تشریف راوړې۔

1… معجم اَوسط، جلد:3، صفحه:62، حدیث:3871۔

2… حدائق بخشش، صفحه:269264 ملتقطًا۔

| | |
|---|---|
| مرحبا! صد مرحبا! پھر آمدِ رمضان ہے | کِھل اُٹھے مُرجھائے دِل، تازہ ہوا اِیمان ہے |
| یاخُدا ہم عاصیوں پر یہ بڑا اِحسان ہے | زِندگی میں پھر عطا ہم کو کیا رمضان ہے |
| اَبرِ رحمت چھا گیا ہے اور سماں ہے نور نور | فَضلِ رَبّ سے مغفرت کا ہو گیا سامان ہے |
| ہر گھڑی رَحْمت بھری ہے، ہر طرف ہیں بر کتیں | ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے |
| یاالٰہی! تُو مدینے میں کبھی رمضاں دکھا | مُدّتوں سے دِل میں یہ عطّار کے ارمان ہے(1) |

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د فیضان به څۀ وایم! د دې خو هر ساعت د رحمت نه ډک دے- پۀ دې میاشت کښې اَجر او ثواب ډېر زیاتیږي- د نفلونو ثواب د فرضو برابر او د فرضو ثواب 70 چنده کولے شي بلکې پۀ دې میاشت کښې خو د روژه دار اودۀ کیدل هم پۀ عبادت کښې شمیرلے کیږي- عرش پورته کوونکې فرښتے د روژه دارو پۀ دُعا باندې آمین وائي-

## د عبادت دروازه

روژه باطِني عبادت دے، ځکه چې زمونږ د وئیلو نه بغیر چا ته د دې پته نۀ لګي چې زمونږ روژه ده او الله پاک باطِني عبادت ډېر خوښوي- د یو **حدیثِ پاک** مطابق **روژه د عبادت دروازه ده**- (2)

## د قرآنِ پاک نازلیدل

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک یو خاصیت دا هم دے چې الله پاک پۀ دې کښې قرآنِ پاک نازل کړے دے- پۀ مقدس قرآنِ پاک کښې د الله پاک فرمان مبارک دے:

---

1...وسائل بخشش، صفحه:706705 ملتقطًا-

2...جامع صغیر، صفحه:146، حدیث:2415-

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُؕ وَ مَنْ كَانَ مَرِیْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَؕ یُرِیْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْیُسْرَ وَ لَا یُرِیْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ٘ وَ لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴿۱۸۵﴾

(پاره: 2، سورهٔ بقره: 185)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د رمضان مياشت ده پۀ کومه کښې چې قرآن نازل کړے شو چې هغه د خلقو د پاره هدايت او رهنمائي ده او د فيصلې پۀ روښانه خبرو (مشتمل دے) نو پۀ تاسو کښې چې څوک دا مياشت ومومي نو ضرور دې د دې روژې ونيسي، او څوک چې بيمار وي يا پۀ سفر کښې وي نو دومره روژې دې پۀ نورو ورځو کښې ونيسي- الله پۀ تاسو اساني غواړي او پۀ تاسو سختي نۀ غواړي او (دا اسانی د دې د پاره دي) چې تاسو (د روژو) شمير پوره کړئ او د پاره د دې چې تاسو پۀ دې خبره د الله لوئي والے بيان کړئ چې هغۀ تاسو ته هدايت درکړو او چې تاسو شُکر گُزار جوړ شئ-

## د رمضان تعريف

د دې آيت مبارک پۀ وړومبی حصه شَهرُ رَمضَانَ الذَّي د لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ تفسيرِ نعيمي کښې فرمائي:

✿ رَمضَان يا خو د رحمان پۀ شان د الله پاک نوم دے چونکه پۀ دې مياشت کښې شپه او ورځ د الله پاک عبادت کيږي- ځکه دې ته شَهرِ رَمضَان يعنې د الله پاک مياشت وئيلے شي- لکه څنګه چې جومات او کعبې ته د الله پاک کور وئيلے شي چې هلته هم د الله پاک کارونه کيږي- هم داسې رَمضَان د الله پاک مياشت ده ولې چې پۀ دې مياشت کښې هُم د الله پاک کارونه کيږي- روژه تراويح وغيره خو دي د الله پاک- خو د روژې پۀ حالت کښې چې کوم جائزه نوکري او جائز تجارت وغيره کولے شي هغه هم د الله پاک کارونه ګرځولے شي- ځکه د دې مياشت نوم رَمضَان يعنې د الله پاک مياشت ده- ✿ يا دا د رَمضَاء نه مُشتَق

(يعنې جوړ شوے لفظ) دے- رَمضَاءَ د خزان د موسم باران ته وئيلے شي، په کوم باندې چې زمکه وينځلے شي او رَبيع (يعنې په سپرلي) کښې فصل ښهٔ کيږي- دا مياشت هم د زړهٔ ګرد او دوړه وينځي او د دې سره د اعمالو پټے ښکلے شين کيږي ځکه دې ته رَمضَان وئيلے شي- په پښکال کښې روزانه بارانونه پکار وي او په بادرو کښې خلور- بيا په اَسو کښې يو- په دې يو سره فصلونه پخيږي- نو دغه شان 11 مياشتې برابر نيکۍ کولے شي- بيا د رمَضَان روژې د نيکو دغه فصل پخوي- ❁ يا دا د رَمض نه جوړ دے د کوم معنیٰ چې ده ګرمي يا سوزيدل- په دې کښې مسلمان د لوږې تندې ګرمي برداشت کوي يا دا ګناهونه سوزوي، ځکه دې ته رَمضَان وئيلے شي- [1] نبيِّ کريم، رَءُوْف رَّحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د دې مياشت نوم رَمضَان اېښودے شوے دے ځکه چې دا ګناهونه سوزوي- [2]

## د سرو زرو د دروازې والا محل

د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ❁ کله چې د رَمضَان د مياشت ورومبۍ شپه راشي نو د اسمانونو او جَنَّت دروازې برسيره کړے شي او د اخره پورې نهٔ بنديږي ❁ کوم اِنسان چې په دې مبارکه مياشت کښې په کومه شپه کښې هم نـمونځ کوي نو الله پاک هغه ته د هرې سجدې په عِوَض (يعنې بدله کښې) د هغهٔ د پاره 1500 نيکۍ ليکي او د هغهٔ د پاره په جَنَّت کښې د سرو ياقوتو کور جوړوي- په کوم کښې چې به 60 زره دروازې وي او د هرې دروازې دُرشل به د سرو زرو نه جوړه وي په کومه کښې چې به سرهٔ ياقوت لګيدلي وي ❁ بس څوک چې د رَمضَان ورومبۍ روژه ونيسي نو الله پاک د مياشت د اخره پورې د هغه ګناهونه معاف کوي او ❁ د هغهٔ د پاره د سحر نه تر د ماښام پورې 70 زره فرښتے د بخښنې دُعاګانې کوي ❁ په شپه او ورځ کښې چې هغه کله هم سجده کوي د هغهٔ د هرې

---

1...تفسير نعيمی، پارہ:2، سورۂ بقرة، زير آيت:185، جلد:2، صفحه:322۔
2...کنز العُمّال، جلد:8، صفحه:217۔

سجدې پۀ عِوَض (یعني بدله کښې) هغۀ ته (پۀ جَنَّت کښې) یوه داسې ونه عطا کولے شي د کومې پۀ سورې کښې چې پۀ آس سور کس د 500 کالو پورې مزل کوي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د رَبِّ کریم څومره لوئي اِحسان دے چې هغۀ مونږ ته د خپل حبیبِ ذِیشان، رحمتِ عالَمِیان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ برکت د رَمَضَانُ المُبَارَک میاشت راعطا کړه چې پۀ دې مبارکه میاشت کښې د جَنَّت ټولې دروازې برسیره کولے شي- او د نیکو اَجر ډیر زیاتولے شي- د بیان کړے شوي حدیث مطابق د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ شپو کښې نـمونځ ادا کوونکي ته د هرې یوې سجدې پۀ بدله کښې 1500 نیکۍ عطا کولے شي او د جَنَّت عظیم الشان محل د دې نه علاوه- پۀ دې حدیثِ مبارک کښې د روژه دارو د پاره دا لوئي زیرے هم موجود دے چې د سحر نه د ماښام پورې 70 زره فرښتے د هغوئي د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي-

## 5 خصوصي عنایتونه

د حضرت جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روایت دے چې د الله پاک د ټولو اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: زما اُمَّت ته پۀ رَمَـضَان کښې پینځه څیزونه داسې عطا کړے شول کوم چې زما نه مخکښې بَل نبي عَلَیْهِ السَّلَام ته دې میلاؤ شوي : (1): چې کله د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک وړومبۍ شپه راځي نو الله پاک د هغوئي طرف ته د رحمت پۀ نظر ګوري او چې کله الله پاک د چا طرف ته د رحمت نظر اوکړي نو هغۀ له به چرې هم عذاب ورنکړي- (2): د ماښام پۀ وخت د هغوئي د خُلې بوئي (کوم چې د لوږې پۀ وجه وي) د الله پاک پۀ نزد د مشکو نه هم بهتر دے- (3): فرِښتے هره شپه او ورځ د هغوئي د پاره د بخښنې دعاګانې کوي- (4): الله پاک جَنَّت ته حکم فرمائي چې زما د (نیکانو) بنده ګانو د پاره ښائسته شۀ ډیر زر به هغوئي د دُنیا د مشقت نه زما پۀ کور او کرم کښې راحت بیاموي-

1...شُعَبُ الایمان، جلد:3، صفحه:314، حدیث:3635 خلاصةً-

(5): چې کله د روژې د مياشت اخرۍ شپه راځي نو الله پاک ټول بخښي- په قوم کښې يو کَس ودريدو او عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا دا لَيـلَةُ الـقَدر ده؟ ارشاد يې وفرمائيلو: نه، آيا تهٔ نهٔ وينې چې مزدوران کله د خپلو کارونو نه فارغ شي نو هغوئي له مزدوري ورکولے شي- (1)

## د رمضان ديوانه مئين

مُحَمَّد نومې يو کَس به ټول کال نـمونځ نهٔ کولو- چې کله به د رَمَضَانُ المُبَارَک شريف برکتي مياشت راغله نو هغهٔ به پاکې جامې اغوستې او پينځهٔ واړه نـمونځونه به يې د وخت د پابندۍ سره کول او تير قضا شوي نـمونځونه به يې هم راګرځول - خلقو د هغهٔ نه پوښتنه اوکړه:چې تهٔ داسې ولې کوې؟ هغهٔ جواب ورکړو: دا مياشت د رحمت، برکت، توبې او بخښنې مياشت ده، کيدے شي چې الله پاک ما د دې عمل په وجه اوبخښي- چې کله هغه وفات شو نو چا هغه په خوب کښې وليدو او پوښتنه يې ترينه اوکړه: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعنې الله پاک ستا سره څهٔ معامله اوکړه؟ هغهٔ جواب ورکړو: زهٔ الله پاک د رَمَضَانُ المُبَارَک شريف د احترام په وجه اوبخښلم- (2)

## الله پاک بے نيازه دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل؟ خُدائے رحمان د روژې د مياشتې په قدر دان باندې څومره مهربانه دے چې صرف د روژې په مياشت کښې عبادت کوونکے يې اوبخښلو- د دې حکايت نه دې څوک دا نهٔ ګڼې چې اوس خو به (مَعَاذَ الله!) ټول کال د نـمونځونو نه چټي وي او صرف په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې به روژه نيسو او نـمونځونه به ادا کوو او نيغ به جَنَّت ته لاړ شو- خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په اصل کښې بخښل يا

1...شعب الايمان، باب في الصيام، فضائل شهر رمضان، جلد:3، صفحه:303، حديث:3603۔
2...دُرَّةُالنَّاصِحِين، صفحه:8۔

عذاب ورکول دا تړول د الله پاک پهٔ خوښه باندې ده- هغه بے نیازه دے- که وغواړي نو څوک مسلمان به پهٔ ظاهره پهٔ یو وړوکي شان نیک عمل باندې هم پهٔ خپل فضل سره وبخښي او که وغواړي نو د لوئي لوئي نیکو باوجود به یې صرف پهٔ یوه وړهٔ شان ګناه باندې راګیر کړي- پهٔ دریمه سیپاره، د سُورهٔ بقره پهٔ آیت نمبر 284 کښې اِرشاد دے:

فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ
(پاره:3، سورۂ البقرۃ:284)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو چا له چې وغواړي بخښنه به ورکړي او چا له چې وغواړي سزا به ورکړي، او الله پهٔ هر څيز قادر دے-

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شُمار جرم
دیتا ہوں واسِطہ تجھے شاہِ حِجاز کا

## د جَنَّت دروازې برسيره شي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! رَمَضَانُ المُبَارَک چې کله راشي نو د رحمت او د جَنَّت دروازې برسيره شي، دوزخ ته تالې ولګولے شي او شيطانان قيد کړے شي- حضرت ابو هُريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ته زيرے اورولو چې د رمضان مياشت راغله دا ډيره د برکت والا ده- الله پاک د دې روژې پهٔ تاسو باندې فرض کړې دي، پهٔ دې کښې د اسمان دروازې برسيره کړے شي- او د دوزخ دروازې بندې کړے شي- سرکشه شيطانان قيد کړے شي- پهٔ دې کښې يوه شپه د شبِ قدر ده، کومه چې د زرو [1000] مياشتو نه زياته ده څوک چې د دې د خير نه محرومه شو هغه محرومه دے- (1)

## پهٔ آتش پرست باندې رحمت

پهٔ بُخارا کښې يو مجوسي (د وور عبادت کوونکے) اوسيدو، يو ځل پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک

1...نَسائی، صفحه:355، حديث:2103۔

کښې هغه د خپل ځوي سره د مسلمانانو په بازار تیریدلو- د هغهٔ ځوي څهٔ څیز په ښکاره خوړل شروع کړو- مجوسي چې کله دا وکتل نو خپل ځوي له یې څپیړه ورکړه او ښه یې ورټلو او اوئې وئیل: تا له د رَمَضَانُ المُبَارَک په میاشت کښې د مسلمانانو په بازار کښې په خوراک کولو شرم نهٔ درځي؟ هلک جواب ورکړو: بابا جانه! تاسو خو هم په رَمَضَانُ المُبَارَک شریف کښې خوراک کوئ- پلار یې ووئیل: زهٔ یې د مسلمانانو په مخکښې نهٔ کوم بلکې په خپل کور کښې دننه په پټه خوراک کوم، د دې مبارکې میاشتې سپکاوے نهٔ کووم- څهٔ موده پس هُغه کَس وفات شو- چا په خوب کښې هغه په جَنَّت کښې په ورو ورو په ګرځیدو ولیدو نو په حیرانتیا سره یې ترینه پوښتنه اوکړه: تهٔ خو مجوسي وې، جَنَّت ته څنګه راغلې؟ اوئې وئیل: واقعي چې زهٔ مجوسي ووم خو چې کله د مرګ وخت رانزدې شو نو الله پاک د رَمَضَانُ المُبَارَک د احترام په برکت ما ته د ایمان دولت راعطا کړو او د مرګ نه پس یې راته جَنَّت راعطا کړو- (1)

## د رَمَضَانُ المُبَارَک ادب کوئ---!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل؟ د رَمَضَانُ المُبَارَک د عزت کولو په وجه یو آتش پرست ته الله پاک یواځې د ایمان دولت عطا نهٔ کړو بلکې هغهٔ له یې د جَنَّت لا زواله نعمتونه هم ورکړل- د دې واقعې نه خاص طور زمونږ هُغه غافلو اِسلامي ورونړو له عبرت حاصلول پکار دي کوم چې د مسلمانئ باوجود د رَمَضَانُ المُبَارَک اِحترام بالکل نهٔ کوي- وړومبے خو هغوئي روژې نهٔ نیسي، بیا پرې د پاسه دا چې د روژه دارو په مخکښې سګریټ څښې، پان خوري، د دې پورې چې بعضې خو دومره بے باکه او بے مروته وي چې ښهٔ ښکاره اوبهٔ څښي بلکې په خوراک کولو هم نهٔ شرمیږي- یاد ساتئ چې په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د ورځې بغیر د څهٔ مجبورئ نه ښکاره قصداً عمداً د خوراک کوونکي د پاره په شریعت کښې ډیره سخته سزا ده-

---

1...نُزهَةُ الْمجَالِس، جلد:1، صفحه:217۔

## آيا مونږ به نۀ مرۀ کيږو؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مسلمانانو د هوش نه کار واخلئ! د څو پورې به پۀ دې دُنيا کښې مزې کوئ؟ آيا مونږ به نۀ مرۀ کيږو؟ آيا پۀ دې دُنيا کښې به هميشه هم داسې ګرځو؟ ياد ساتئ چې يو نا يو ورځ به مرګ ضرور راځي او زمونږه تعلق به د ژوند سره ختم شي او د نرمو او د سکون والا پستو بسترو نه به خاورو ته ځو- د هر قِسمه عيش او ارام والا کمرو نه به تيارۀ قبرونو ته ځو، بيا به د پښيمانه کيدو نه علاوه هيڅ پۀ لاس نۀ راځي- اوس لا موقع شته، د ګناهونو نه رښتوني توبه کړئ او د روژې او د نـمونځ پابندي شروع کړئ-

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

## د ټول کال نيکۍ بربادې

د حضرت عبدُ الله ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما نه روايت دے چې د نبيانو د سلطان، رحمتِ عالمِيان صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بے شکه جَنَّت د روژې د مياشت د پاره د يو کال نه د بَل کال پورې ښائسته کولے شي، بس چې کله د روژې مياشت راشي نو جَنَّت وائي: اے الله پاکه! ما ته پۀ دې مياشت کښې پۀ خپلو بندګانو کښې (پۀ ما کښې) اوسيدونکې راعطا کړې، او حُورِ عين وائي: اے الله پاکه! پۀ دې مياشت کښې مونږ ته پۀ خپلو بندګانو کښې خاوندان راعطا کړې، بيا د مدينے سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: چا چې پۀ دې مياشت کښې د خپل نفس حفاظت اوکړو چې نۀ يـې څۀ نشه ايز څيز وڅښلو او نۀ يـې پۀ چا مؤمِن باندې بهتان ولګولو او نۀ يـې پۀ دې مياشت کښې څۀ ګناه اوکړه نو الله پاک به د هرې شپې پۀ بدله کښې د هغه نـکاح د 100 حُورو سره کوي او د هغه د پاره به پۀ جَنَّت کښې د سرو زرو، د سپينو زرو، ياقوتو او د زبرجدو داسې محل جوړوي چې که ټوله دُنيا راجمع شي او دې محل ته راشي نو د دې محل به دومره ځائے

ګير کړي خومره چې د چيلو يو شپول د دُنيا ځائے ګيروي او چا چې په دې مياشت کښې څۀ نشې ايز څيز وڅښلو يا يې پۀ چا مؤمِن باندې بهتان ولګولو يا يې پۀ دې مياشت کښې څۀ ګناه اوکړه نو الله پاک به د هغۀ د يو کال اعمال برباد کړي- نو بس تاسو د روژې د مياشتې پۀ (پۀ حق) کښې د بے خيالۍ نه ويريږئ ځکه چې دا د الله پاک مياشت ده- الله پاک ستاسو د پاره 11 مياشتې کړې چې پۀ دې کښې د نعمتونو نه خوندونه واخلئ او مزې واخلئ او د ځان د پاره يې يوه مياشت خاص کړې ده- بس تاسو د روژې د مياشت پۀ باره کښې ويريږئ- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې که يو خوا د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې د احترام کوونکو د پاره د اخرت د انعامونو زيرې دي نو بل خوا د دې مبارکې مياشتې د قدر نۀ کوونکو او پۀ دې کښې د ګناه کوونکو د پاره وعيدونه هم دي-

## پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د ګناه کولو والا

د حضرت اُمِ هاني رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا نه روايت دے،چې د دوارو جهانو د سلطان، محبوبِ رحمان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زما اُمت به ذليله او رسوا کيږي نۀ تر څو پورې چې هغوئي د روژې د مياشتې حق ادا کوي- عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د رمضان د حق پۀ ضائع کولو کښې د هغوئي ذليله او رسوا کيدل څۀ دي؟ اوئې فرمائيل: پۀ دې مياشت کښې حرام کارونو کول، بيا يې وفرمائيل: چا چې پۀ دې مياشت کښې زِنا اوکړه يا يې شراب وڅښل نو د بَل رمضان پورې الله پاک او چې خومره اسماني فرښتے دي ټولې پۀ هغۀ باندې لعنت وائي- بس که دا ګس د راتلونکې روژې مياشتې موندلو نه مخکښې مړ شو نو د هغۀ سره به هيڅ داسې نيکي نۀ وي کومه چې هغه د دوزخ د وور نه بچ کړي- بس تاسو د روژې د مياشتې پۀ باره کښې ويريږئ ځکه چې څنګه پۀ دې

---

1...معجم اوسط، جلد:2، صفحه:414، حديث:3688۔

مياشت کښې د نورو مياشتو په مقابله کښې نيکۍ زياتولے شي دغه شان د ګناهونو معامله هم ده۔ (1)

## نا قدرو! خبردار!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ولړزيږئ! د روژې د مياشتې د نا قدرۍ نه د بچ کيدو خاص انتظام اوکړئ۔ په دې مبارکه مياشت کښې د نورو مياشتو په مقابله کښې چې لکه څنګه نيکۍ زياتولے شي هم دغه شان د نورو مياشتو په مقابله کښې د ګناهونو هلاکتونه هم زياتولے شي۔ د روژې په مياشت کښې شراب څښلو والا او زِنا کولو والا خو داسې بد نصيبه دے چې که د راتلونکې روژې نه مخکښې مخکښې مړ شو نو بيا به د هغۀ سره هيڅ داسې نيکي نۀ وي کومه چې هغه د دوزخ د وور نه بچ کړے شي۔ ياد ساتئ چې د سترګو زِنا بد نظري، د لاسونو زِنا نا محرمه (يا په شهوت سره اَمرَد [نا بالغه هلک]) له لاس وروړل دي لهذا خبردار! خبردار! خبردار! د روژې په مياشت کښې په خصوصيت سره خپل ځان د بد نظرۍ نه بچ ساتئ۔ تر څپله وسه پورې قفلِ مدينه ولګوئ يعني د نظر ښکته ساتلو پوره کوشش اوکړئ۔ آه! ډير افسوس چې بعضې وخت نـمونځ ګزاره او روژه دار هم د رَمَضَانُ المُبَارَک په سپکاوي کولو د قهار د قهر او د جبار د غضب ښکار کيږي او د وور په عذاب کښې راګيريږي۔

## د قبر وحشت ناک منظر!

يو ځل د مسلمانانو څلورم خليفه مولا علي شيرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قبرونو د زيارت د پاره د کوفې هديرې ته تشريف يوړلو۔ هلته يې په يو تازه قبر نظر پريوتو۔ د حضرت علي المُرتضیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغۀ د حالاتو معلومولو خواهش وشو۔ نو د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله پاکه! د دې مړي حالات په ما باندې ظاهر کړې۔ د الله پاک په بارګاه

1...معجم صغير، جلد:9، صفحه:60، حديث:1488۔

کښې د هغوئي خواست واوریدے شو او په لږ ساعت کښې چې د هغوئي او د ځغه مړي ترمینځه ځومره پردې وې ټولې لرې کړے شوې- بیا د یو قبر وحشت ناک منظر د هغوئي مخې ته وو- څهٔ ګوري چې مړے وور راګیر کړے دے او هغه په ژړا ژړا حضرت علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته داسې فریاد کوي:

یَاعَلِیُّ! اَنَاغَرِیۡقٌ فِی النَّارِ وَحَرِیۡقٌ فِی النَّارِ

یعني اے مولا علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ! زهٔ په وور کښې ډوب یم او په وور کښې سوزیږم- د قبر وحشت ناک منظر او د مړي درد ناکه اواز حیدرِ کرار رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نا قلاره کړو- حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خپل رحمت والا پروردګار په دربار کښې لاسونه پورته کړل او ډیر په عاجزۍ سره یې د ځغه مړي د بخښلو د پاره خواست اوکړو- غیبي اواز وشو: اے علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ! تاسو د دهٔ سفارش مهٔ کوئ ځکه چې د روژو نیولو باوجود به دې ګس د رَمَضَانُ المُبَارَک سپکاوے کولو، په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې به هم د ګناهونو نه نهٔ منع کیدو- د ورځې خو به یې روژې نیولې خو د شپې به یې ګناهونه کول- مولا عليُّ المُرتَضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې دا واوریدل نو نور هم غمژن شو او په سجده پریوتو او په ژړا ژړا یې عرض شروع کړو: یا الله پاکه! زما عزت ستا په لاس کښې دے، دې اِنسان ډیر په اُمید سره ما ته اواز کړے دے، زما کریم مالکه! تهٔ ما د دهٔ په مخکښې مهٔ رسوا کوې، د دهٔ په بے وسۍ باندې رحم اوکړې او دا اوبخښې- حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په ژړا ژړا دعاګانې کولې- د الله پاک د رحمت دریاب په جوش کښې راغلو او اواز وشو: اے علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ! مونږ ستا د غمژن والي په وجه دا اوبخښلو- نو د ځغه مړي نه عذاب پورته کړے شو-[1]

کیوں نہ مُشکِل کُشا کہوں تم کو!
تم نے بگڑی مِری بنائی ہے

---

1...انیسُ الْواعِظِین، صفحه:2625۔

## د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ شپو کښې لوبې توقې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې حکايت نه عبرت حاصل کړئ- آه! ډېر افسوس چې د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ مبارکو شپو کښې ډېر ځوانان پهٔ محلو کښې کرکټ، فټ بال وغيره لوبې کوي، ښه شور شغرب کوي او داسې خو دا بد نصيبه ښځپله د عبادت نه پهٔ محرومه پاتې کيدو د نورو د پاره هم د ډېرې پريشانئ سبب جوړيږي- نهٔ خو ښځپله عبادت کوي او نهٔ نور عبادت ته پريږدي- داسې قِسمه لوبې د الله پاک نه غافله کوونکې دي- نيکان خلق خو د دې لوبو نه لرې اوسي- ښځپله لوبې خو غټه خبره ده چې تماشه يې هم نهٔ کوي بلکې د داسې قِسمه لوبو پهٔ سټرکو ليدلے حال (*Commentary*) هم نهٔ اوري- لهذا د دې حرکتونو نه هميشه بچ اوسيدل پکار دي او خاص طور د رَمَضَانُ المُبَارَک برکتي ساعتونه خو هيڅکله هم داسې بربادول نهٔ دي پکار-

## پهٔ روژه کښې د وخت تيرولو د پاره

ډېر نادانه خلق داسې هم ليدلے کيږي کوم چې اګر که روژې خو نيسي خو بيا پهٔ هغه خوارانو وخت نهٔ تيريږي- نو هغوئي هم د رَمَضَانُ المُبَارَک احترام يو طرف ته کيږدي او په حرامو او نا جائزه کارونو کولو سره وخت تيروي او داسې پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې پهٔ شَطرَنج، تاش، لډو، سندرو سازونو وغيره کښې مشغوليږي- ياد ساتئ چې پهٔ شطرنج او تاش وغيره باندې که څهٔ قِسمه شرط اونهٔ لګولے شي نو بيا هم دا لوبه نا جائزه ده بلکې پهٔ تاش کښې د ساه لرونکو تصويرونه هم وي ځکه اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه تاش کولو ته مطلقاً حرام ليکلي دي- (1)

| | |
|---|---|
| گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! | بُری عادتیں بھی چُھڑا یاالٰہی! |
| خطاؤں کو میری مٹا یاالٰہی! | مجھے نیک خَصلت بنا یاالٰہی! |

1...فتاوٰی رضويه، جلد:24، صفحه:141-

مُطِیع اپنا مجھ کو بنا یاالٰہی! | سدا سُنّتوں پر چلا یاالٰہی! (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي، رَمَضَانُ المُبَارَک راروان دے ، الله پاک دې زمونږ د رَمَضَانُ المُبَارَک مياشت ته رسيدل هم نصيب کړي او د دې مبارکې مياشتې د قدر کولو توفيق دې هم رانصيب کړي- يقيناً چې خوش قِسمه دے هغه څوک چې د روژې مياشت ومومي او د دې په برکت د خپل ځان په بخښنه کښې کامياب شي او څوک چې په دې مبارکه مياشت کښې هم خپل ځان اونه بخښلے شي نو يقين اوکړئ چې هغه ډير زيات محرومه او بد بخته دے-

الٰہی پُل صراط اِک پَل کے اندر پار کر جاؤں
تو کر ایسی عنایت از پئے شاہِ حرم مولیٰ
میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرما دے کرم مولیٰ (2)

ما چې اوس کوم روايتونه او د سبق نه ډکې واقعې تاسو ته وړاندې کړې، دا ټول د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه د ډير ښکلې کتاب فيضانِ رمضان نه اخستے شوي دي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! فيضانِ رمضان ډير نايابه کتاب دے، په دې موضوع باندې په اُردو ژبه کښې دومره فائده مند او کوټلے کتاب مشکله ده که ميلاؤ شي ✿ د رَمَضَانُ المُبَارَک په ښه انداز کښې د تيرولو، ✿ د روژې د ظاهري او د باطني آدابو نه د ځان خبرولو د پاره او ✿ ډيرې زياتې داسې غلطۍ کومې چې عام طور خلق د روژو په حالت کښې کوي، د کومو په وجه چې روژې بربادېږي، د داسې غلطيانو په باره کښې د شرعي مسئلو د زده کولو د پاره فيضانِ رمضان ډير ښکلے کتاب دے، د مکتبة المدينه نه دا کتاب حاصل کړئ! يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه مفت ډاؤن

---

1…وسائلِ بخشش، صفحه:100۔
2…وسائلِ بخشش، صفحه:98۔

لوړ کړئ! په کور کښې يې کېږدئ! ښځله يې هم ولولئ او نور کور والؤ له يې هم د لوستلو ترغيب ورکړئ بلکې ښه به دا وي چې په کور کښې د دې کتاب نه درس ورکړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ❁ ډير زيات عِلمِ دِين به زده کړئ ❁ د دِيني درس ورکولو ثواب به مو هم نصيب شي ❁ د کور والؤ اِصلاح کومه چې زمونږ د ټولو ذمه واري ده، دا ذمه واري ترسره کول به مو هم نصيب شي او ❁ که الله پاک وغوښتل نو د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې به مو په ښه انداز کښې تيريدل هم نصيب شي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# درود او سلام موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په دې کښې يو ايپلي کيشن دے: درود او سلام (***Durood-o-Salam***) ❁ په دې درود او سلام ايپلي کيشن کښې د زړونو روښانه کوونکي 6 درود شريف موجود دي کوم چې تاسو هر وخت لوستلے شئ او دا د خپل موبائل په اَن لاک ټيون (***Unlock Tune***) باندې هم سيټ کولے شئ ❁ که تاسو ښځله د درودِ پاک لوستلو انتخاب کوئ، نو څنګه چې تاسو خپل فون کولاو کړئ دا به ښځله چليږي ❁ نور دا چې هُغه درودِ پاک به ستاسو د موبائل د اَن لاک کيدو سره په هوم سکرين باندې هم ښکاري، د دې فونټ سائز هم ايډجسټ کولے شئ ❁ درودِ پاک چې خومره ځل هم لوستلے شي د هغې شميره به درج کولے شي ❁ د آواز واليوم (***volume***) ايډجسټ کيدے شي او د خپلې خوښې مطابق سيټ کيدے هم شي ❁ کله چې هم تاسو موبائل فون کولاوهئ نو ستاسو د فون په سکرين باندې به درود شريف ظاهريږي او د دې شميره به په سمدستي توګه په درود کاؤنټر کښې محفوظ کيږي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** پهٔ راتللو باندې اُمبارکي ورکول جائز ده خو پهٔ دې باندې جَنَّت واجب کیږي، داسې پهٔ یو حدیث کښې هم نشته۔

**وضاحت:** عام طور چې کله **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** راځي نو دلته یو میسج پهٔ سوشل میډیا وغیره باندې چلیږي، پهٔ کوم کښې چې څهٔ داسې لیکلےشوي وي: **حدیثِ پاک** دے: **چا چې د ټولو نه مخکښې د رمضان د راتللو اُمبارکي ورکړه، د هغهٔ د پاره جَنَّت واجِب کیږي۔**

یاد ساتئ چې **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** بے شکه چې ډیره د عظمتونو والا میاشت ده، د دې پهٔ راتللو باندې خوشحالي کول جائز هم دہ، نورو له اُمبارکي ورکول هم جائز ده، د دې پهٔ خوشحالۍ باندې د ثواب اُمید هم کیدے شي او دا هم ممکن ده چې زمونږ داسې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** پهٔ راتللو باندې د خوشحالیدو سره د الله پاک رحمت پهٔ جوش کښې راشي او مونږ د جَنَّت حقدار جوړ شو--- البته! دا چې څهٔ پهٔ مسیج کښې لیکلے کیږي چې **چا چې د ټولو نه مخکښې د رمضان د راتللو اُمبارکي ورکړه، د هغهٔ د پاره جَنَّت واجِب کیږي،** داسې پهٔ یو حدیث کښې هم نشته۔ لهذا د داسې د دروغو مسیجونو د خورولو نه ځان ساتئ او څوک چې تاسو ته داسې میسج در اولیږي، هغهٔ ته ډیر پهٔ مینه او محبت سره، پهٔ حکمت سره د نیکۍ دعوت هم ضرور ورکړئ! بلکې که کیدے شي نو د داسې خبرو مکمل مخنیوے پکار دے۔ پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي، زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ فِي النَّار چا چې پهٔ ما پسې قصداً عمداً دروغ وتړل (مثلاً حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څهٔ خبره نهٔ وي فرمائیلي او ووئیلے شي چې دا د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حدیث دے) نو داسې اِنسان دې خپل ځائے دوزخ

جوړ کړي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰى برکتونه (وظيفه)

### يَاقَادِرُ

څوک چې په اودس کښې د هر اندام د وينځلو په وخت د يَاقَادِرُ د لوستو عادت جوړ کړي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! دښمن به هغه اغوا کولے نۀ شي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...بخاری، کتاب العلم، باب اثم من کذب علی النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:102، حدیث:107۔

2...مدنی پنج سورہ، صفحه:255۔